# غازي سیال او د هغهٔ د نثري اصنافو یوه تحلیلي جائزه

## A CRITICAL STUDY OF GHAZI SYAL IN THE PERSPECTIVE OF HIS PROSE WRITING

Prof-Dr-Nasrullah jan wazir*
Dr.Faizullah**

**Abstract:**

Ghazi Syal is a prominent writer of Pashto language and literature. He has many publications on different aspects of Pashto literature. In this research paper his works on different genres of the literature i.e. short stories, novels, personality sketches and particularly folk songs have been analyzed and discussed.

Those folk songs which he has attached with Bannu dialect have been proved wrong with authentic references that those songs do not belong to Bannu dialect instead these are Common folk songs or belong to Waziri tribe which is adjutants to Bannu.

**د سیال پېژندګلو** : خپل نوم ئې محمد غازي، د زوکړې نېټه ئې ۱۵ اپرېل ، ۱۹۳۳ء ده. د خیبرپښتونخوا اولسوالي (ضلع) بنو سره نزدې کلي اخوندان کښې د مولوي عبدالغفور شاه کره پیدا شوے. قلمي نوم ئې غازي سیال چې اروابناد طاهر کلاچوي ورلره خوښ کړے. [۱]

یوې علمي او دیني کورنۍ سره تعلق لري. په خاندان کښې ئې ګڼ دیني عالمان، روښانیان او مخه وریز مشران تېر شوي. له دې کبله په سیمه ایزه توګه د دوئ کورنۍ د احترام وړ او په درانه سترګه ورته کتل کېږي.

په خانداني توګه د علم دوستۍ او له پښتو سره د مینې یو ځلاند ثبوت ئې دا هم دے چې د دهٔ دوه ترونه، مجیب او صدیق صاحبِ دیوان شاعران تېر شوي دي. د مجیب دیوان د پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون د غېر

---

* Director Pashto Academy University of Peshawar
** Chairman Pashto Department University of Baluchistan, Quetta

مطبوعه قلمي نسخو لږ292 خوندي پراته ده. البته د صديق د شعر او شاعرۍ کوم خاص نمونه لاتر اوسه چاته په لاس نۀ ده وراغلې.

غازي سيال د خپل تعليم سلسله تر لسم جماعت پورې ترسره کړې ده. خو د خپل ازاد طبيعت له کبله ئې دا سلسله سرته او نۀ رسولے شوه. البته پرته له دې خپل پلار څخه ئې د صرف و نحو او د فارسۍ يو څۀ کتابونه لوستي دي. له شعر او ادب سره تعلق ئې له هاغه زمانې ياد شوے، څۀ وخت چې به دۀ د سکول په دوران کښې په مترنم اواز سره بدلې او چاربيتې اورولې. پس له دې کله چې ۱۹۵۲ء کښې دۀ د بنو په پښتو ادبي ټولنه کښې په باقاعده توګه ګډون واخيستو، نو له هاغه زمانې څخه ئې دا سلسله لاپسې ګړندۍ او دوام داره شوې ده.

له علمي کورنۍ سره تعلق او په خاندان کښې د دوو ترونو مجيب او صديق په شان شاعرانو اغيزې سيال دې ته هڅولے، چې دے هم له دې لارې خپل اظهار اوکړي. ښاغلے غازي سيال يو تکړه اديب، ليکوال، شاعر، محقق او د اولسي سندرو د پېژندنې، څېړنې، جوړونې او تاريخ بشپړونې په لړ کښې يو ښۀ تکړه فولکلوريست منل شوے. ګڼ شمېر شعري، ادبي، تحقيقي او تاريخي اثار ئې ليکلي دي. د دۀ د نثري موادو په حقله دغه مقاله په خصوصيت سره څېړنې لري. د شعر په برخه کښې هم د سيال صاحب ګڼې مجموعې تر چاپ راتېرې شوې دي. په پښتو نثر کښې د دۀ له اثارو څخه دوه ناولونه بنزے او منګرِے چاپ شوي دي. د افسانې په لړ کښې يوه افسانوي مجموعه ''سيورې'' چاپ شوې ده.

د تحقيق او شخصيت نګارۍ په ډګر کښې ئې '' هغه سندرې چې فوک نۀ دي'' او د ''سندرې روح '' ياد بدلے شي. (بشپړه څېړنه ئې وړاندې راوړل شوې ده).

د پښتو شاعرۍ ئې ګڼې مجموعې چاپ او لاسلسله ئې راوانه ده. د نظم د ميدان يو تکړه شاعر ياد شوے. تقريباً په هر صنف کښې ئې طبع ازمائې کړې ده. لکه نظم، غزل، چاربيته، سندرې، هائيکو او يو لړ نور. خو عظمت ئې د غزل يا نورو اصنافو په نسبت په نظم کښې ځلاند او منل شوے. د دۀ يو

خاص صفت دا هم یادشوے، چې سیال ښکلے ترنم وائي. د دۀ په حقله مشهوره ده چې 'هر څو که د سیال نظمونه د موسیقۍ په اهنګونو پوره ختلي، خو څۀ وخت چې دے دغه نظمونه په ترنم وړاندې کوي نو سُر ئې یو په دوه شي. د خپلې خوش الحاني په حقله په خپله څۀ داسې وئیلي دي:

''زماد بابا اوازهم ډېرخوږ ؤ ماته ئې د نظم سبق په خوش اوازۍ سره راکولو. مابه د بابا د خوش اوازۍ انداز خپلولو کوشش کولو....زما چې د موسیقۍ سره د جنون تر حده شوق ؤ. زۀ به چې چېرته میداني مجلس جوړ شوے ؤ، پټ به د کوره د خلقو نه مجلس ته تلم''.[۲]

په هُنرونو کښې له موسیقۍ سره د جنون ترحده شوق پاللے. ولې کله هم د مذهب تردائرې نۀ دے پسې وتلے.

دغه مینه که یوې خوا فطري وه نو بلې خوا له فلمي دنیا سره نزدیکت ورلره دا میدان نور هم پراخ کړے. ښکاره مثالونه ئې ''د سندرې روح''، ''زما سندرې'' او ''هغه سندرې چې فوک نۀ دي'' کښې ویړیا کتلے شو.

په شخصي توګه ښاغلے سیال یو ډېر ملنسار، خاورین مزاج، مهین طبیعت او شیرین انسان دے. په هر محفل کښې له ځوانانو سره ځوان او له مشرانو سره په مشرانه ناسته پاسته کوي. تکبر، لوئي، ستروي او کرکه ئې په فطرت کښې نۀ ده شامله. ادب، احترام او انسان دوستي ئې ادبي وظیفه او مشغله ده. په جار جیو، ځار او قربان سره خبره کول او لیدل کتل ئې اضافي صفات دي. غرض دا چې:

''په زړۀ سپین، په نیت صفا او په تندي روڼ....خوا خوږے دوست او مخلص ملګرے دے. کله کله په نۀ خبره مروربږي هم. خو بیا په نۀ خبره پُخلا کېږي هم''.[۳]

دشخصیت په اړه ئې د پښتو ادب نامتو محقق او لیکوال همېش خلیل لیکي چې:

''سیال زمونږ په هغه شاعرانو کښې دے چا چې غزل او نظم دواړو ته په ډېره سنجیدګي سره مخه کړه. د ژوند متعلق هم دهغۀ رویه تر دغه وخته تر ډېره حده روماني ده. غالباً هم دا

وجه ده چې د ارتقا په ښېګړه د یقین لرلو باوجود د سیال په شاعرۍ کښې د ستومانۍ او د یاسیت پرتو خورې دي''.[۴]

## دسیال تصنیفات او تالیفات:

په پښتو نظم او نثر کښې دۀ ګڼ کتابونه لیکلي ۔چې له هغو څخه د نظم په برخه کښې ښکلا د کائنات، چاپ مارچ، ۲۰۰۲ـ ژوند او ښکلا، ۱۹۷۸ـ رنګونه بهارونه، ۲۰۰۷ـ پرخه په ګلونو، ۱۹۹۲ـ د ازادۍ سحر، مارچ، ۱۹۹۰۔ زما سندرې ستادپاره ، ۲۰۰۱۔ د نثر په برخه کښې منګرے ، ناول، ۲۰۰۵۔ بنزے ، ناول ۱۹۸۷ ۔بنزے ناول څو ځلې پرله پسې توګه چاپ شوے۔ سیورې، افسانې، نومبر، ۲۰۰۸ـ د سندرې روح (ګلنار بېګم)، مارچ، ۲۰۰۰۔ (دې کښې د ګلنار شخصیت او فن او د هغې د سندرو په حقله تحقیقي رنګ هم شته)۔ د فوک یا اولسي سندرو د تحقیق په لړ کښې د سیال په زړۀ پورې کتاب ''هغه سندرې چې فوک نۀ دي'' د ذکر وړ دے۔

چونکې د دې مقالې اصل موضوع د سیال د نثري تصنیفاتو او تالیفاتو یوه نقادانه جائزه اخیستل دي ځکه د هغۀ له شاعرۍ او شاعرانه فن څخه تېرېږو۔

## د سیال نثر:

بنزے : د سیال ړومبے ناول دے ۔چې اول ځل په جنوري، ۱۹۸۷ء کښې او بیا پر له پسې پینځۀ واره ځلې بیا چاپ شوے۔

د دې ناول داخلي موادو په حقله ښاغلے همېش خلیل لیکي:

''دغه ناول کښې یو خو که د یو زوئ مینه د خپل پلار د عزت او ناموس په خاطر د دار په معراج د خپلې وینې نذرانې په پېشکش بېقراره وي نو بل خوا د وعدې د ایفا او تکمیل هغه بېرغ دے، چې په اخلاقي منارو د ابدیت په ژبه د پت او وفا سندرې وائي ـ که یو خوا د جنسي خواهش او وحشت منظر کشي کوي نو بل خوا په ننګ، غیرت او ناموس د عظیمې قربانۍ ترجماني کوي''۔[۵]

د ناول فني سکښت او یا د پلاټ، قیصه، کردارونه، مکالمې، تضاد، بره تګ او انتهائي بره تګ، منظر کشي، مقصد او تاثر وغیره په حقله اروابناد افضل رضا خپل نظر داسې وړاندې کړے۔

''د بنزې ناول قیصه چې ما اولوسته نو په دې پوهـ شوم چې ګران سیال د دوستانو او ملګرو محفل ښائي۔ جلا ل دخپل دوست ګل خان امانت نورجهان د هغه بازاره را اوباسي چرته چې عصمتونه لوټ کېږي ۔او دعارف اېس ډي او په کور کښې ئې د بي بي په څېر کښېنوي۔ ۔ ۔ ۔'' ۔ [۶]

هم دغسې د دې ناول کردارونه افضل رضا متحرک او ماحول په مطابق یاد کړي ۔د سړیو په ټولنه کښې د ښځو سره چې کوم سلوک کېږي یا هغوئ ته په کوم نظر کتل کېږي، په حقله هم یو تاثر په کښې موجود دے۔

افضل رضالیکي ۔

''د ناول ټول کردارونه جلال دے که ګل خان دے، که سلیم دے که فهیم، او شاه فهد دے که عارف، مومي ده که نورجهان او بېګم جان ده ـ تاجو دے که ماما دے ۔زمونږ د معاشرې ژوندي کردارونه دي۔ د ناول په مرکزي نقطو کښې دا نقطه ډېره جوته ده چې سړے د ښځو سره څۀ سلوک کوي۔ د دې نۀ ئې د عېش و عشرت یوه تحفه جوړه کړې ده'' [۷]

ظاهره ده چې هر یو صنف هغه که ناول وي، افسانه وي او که ډرامه،د یو خاص تاثر او تکنیک تحت لیکلې کېږي ۔څومره چې یوه فن پاره په دې تول برابره وي ۔هغه هومره کامیابه او په زړۀ پورې بلله شي ۔ په دې کښې فني تقاضې څومره په ځائے کړل شوې دي ۔هغه محترم افضل رضا په خپلو دې الفاظو بیان کړي دي:

''دا قیصه یو ښکلے اغاز لري، معیاري عروج ئې دے۔او د تجسس او سسپنس نه ډک انجام ئې دے ۔ ۔ ۔ ۔خاص کر د مومي د قتل معمه ډېره زیاته سسپنس نه ډکه ښکاري۔ دا د یوې افسانې، ډرامې او ناول د پاره د کامیابۍ علامه ده ۔چې

د عروج د نقطې په لور لوستونکي په تادۍ تـادۍ روان دي ـ پـه دې لحـاظ د دې اول انجـام ډېـر اثـر نـاک او زړۀ راښـکونکے دے". [۸]

تر کومه چې د نـاول د منظر کشـۍ تعلق دے ـ یقیناً چې په فني توګه سکښت ئې د دې وړ دے چې:

"ګران سیال چونکې شاعر هم دے خو هغـه کـه د دفتـر نقشـه پېش کوي، که د کالج یا د هاسټل، د مومي یا د نورجهان یا د تـاجو د حسـن خبرې کـوي .... هـر ځـائے پـه نثر کښې شـاعري کوي ـ او په دې وجه هغه د کامیابې منظرکشـۍ سره سره ځـائے په ځائے مکالمې کښې هم ډېر خوند پیدا کړے ـ ژبه ئې ښځي ډېره خوږه او سوچه ده او بیا د ژبې او بیـان دې ښائسـت کښـې خوږو متلونو اضافه کړې ده". [۹]

دغسې کردارونه ئې په خپـل وار او پـه خپـل مقـام سم اودرولـي ـ بې واره او بې ترتیبه ترې یو کردار هم منځ ته نۀ دے راغلے.

یو ځائے کښې ئې زمونږ د مامورینو د دفتري ژوند یوه نفسیاتي نـاجوړي پـه ډېر ښکلي هُنر سره راسپړلې ده. که څۀ هم دغه مسئله د نـاول لـه بنیـادي تهیم سره کوم خاص پېوند نۀ ده. ولې دا اضافه ئې په ناول بوج کړې نۀ ده ـ دغـه نـاجوړي زمونږ په دفترونو کښې د جـګ پـوړي مـامورینو تـر منځـه د انګرېزي زدکړې د برترۍ یا د کمترۍ احساس دے ـ سیال په تبلیغاتي یاد قدغن په رنګ کښې نۀ ده رانغښتې خو د موقعې په مناسبت ئې دلته ورلره ښۀ ځائے پیدا کـړے او بیـا ئې ورباندې ګزار کړے:

"د دوئ ټولـو مـورنۍ ژبـه پښـتو ده ـ ولـې خبـرې بـه ئـې پـه انګرېزۍ کښـې کـولې ـ او دا دوئ یـو ضـروري امـر ګڼلو ـ د دې وجه دا نۀ وه چې ګني پـه دا ژبـه ئې عبـور لرلـو بلکې دا د دوئ مجبـوري وه ځکـه چـې پـه دفتـر کښـې انګرېزانـو افسـرانو بـه ورسره په انګرېزي ژبه خبرې کولې". [۱۰]

په مجموعي توګه که مونږ د دې ناول کړو وړو ته پام اوکړو نو يو څۀ داسې نقشه ئې جوړېږي۔ چې د دې قيصه، منظرونه، کردارونه، بره تګ، مکالمې، مقصد او تاثر تر ډېر حده د ناول لوازمات په ځان کښې رانغاړي ۔ يو نيم ځائے که چرته د سنيمې سکرين تاثرپه کښې برېښي، دا نو له فلمي دنيا سره د هغۀ د تعلق اثر دے. نۀ چې بالقصد. لکه د دې ناول وروستنے عدالتي سين ۔ هم دغسې د تجسس ياسسپېنس، تاثر، کردارونه، مکالمې، جذبيت يا لوستونکے له ځان سره روانولو وغيره خوبي ئې د ستائيلو وړ ده ۔ د قيصې يو صفت دا هم وي چې هغه لوستونکے ځان سره اخلي ۔د دې ناول په قيصه کښې دا صفت هم ډېر په لوړه کچه موجود دے۔

دا رنګه ئې مکالمې خونده ورې،برجسته، لنډې لنډې، د موقع او محل مطابق او زړۀ پورې دي۔

د سيال دويم ناول منګرے دے چې کال **۲۰۰۵**ء کښې چاپ شوے۔ سريزه ورباندې پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک او نثار محمد خان ليکلې ده۔

خو د دې ناول يو مجموعي تاثر د نثار محمد خان په دې توريو کښې د راغونډولو هڅه کوو۔

> ''د خپل فن د عشق په لېونتوب کښې غازي سيال د معاشرې د هر وګړي د خوئ خصلت داسې مطالعه کړې ده ۔ چې په هر تحرير، هر ليک کښې نوې خبره کوي۔ هم دغه نوې والے چې شاعر او اديب ورته جدت وائي۔ هم د غازي سيال د تحريرونو او ليکونو توښه ده۔ هم دا وجه ده چې په منګري ناول کښې يو نوے والے او يو جدت دے۔ يوه داسې ښکلا ده لکه چې د پښتو دلمنې ئې په ډېره خوارۍ ډول سنګار کړے وي۔ او دا فيصله بيا ډېره ګرانه شي چې غازي سيال يو ښۀ شاعر دے او که ښۀ ناول نګار''۔ [۱۱]

## د سيال افسانې:

سيال يو لړ افسانې هم ليکلې دي۔ چې له هغو څخه يوه افسانوي مجموعه ''سيورې'' تر عنوان لاندې نومبر، ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوې ده۔ په دې کښې

ددۀ لس خپلې افسانې او يو ه د افريقې له اولسي قيصو څخه راژباړل شوې افسانه ''د لمر لوريانې'' شامله ده ـ چونکې سيال باقاعده افسانه ليکونکے نۀ دے او هم نۀ هغه په خپله دې ميدان کښې د زغاست کومه لويه دعوىٰ کوي ـ ځکه مونږ د دۀ د افسانو له فني اړخ څخه تېرېږو. خو له دغو افسانو څخه يو لړ هغه افسانې چې داخلي مواد ئې څېړنه ته اړتيالري، لږ قدر پښه نيولي کېږو. تر کومه چې د افسانې په ډګر کښې د دۀ د فني لاس برې تعلق دے هغه خو سيال په خپله معترف دے چې:

> ''دا هغه وخت ليکلې شوې دي، کله چې پښتو ادب ته افسانه نوې نوې راغلې وه ـ داسې رواج ئې نۀ وو موندلے او ما هم په ادبي دنيا کښې نوے نوے ړومبې قدم اېښے وو''. [۱۲]

خو په دې بره اِقتباس کښې دبحث وړ يو څو نقطې شته ـ

هغه داسې چې يو خو پښتو افسانه د ۱۹۱۷ء څخه را په دې خوا شروع شوې ده ـ بيا وروستو د ميرمهدي شاه باچا او د قلندر مومند غوندې لوړ هُنري افسانه ليکونکيو په کښې ښې تجربې کړې دي او تر ډېره حده د فن خوا ئې هم ورلره برابره کړې ده ـ د دوئ تر مخه هم په دې ډګر کښې تجربات روان ؤ ـ بل په فني توګه کومه خاص نيمګړتيا خو هم نۀ ده پاتې شوې ـ ځکه دلته د سيال له دې خبره سره اتفاق نۀ شي کېدے چې هغه وخت پښتو افسانه نوې نوې شروع شوې وه ـ ځکه چې دا د پښتو افسانې د عروج زمانه وه ـ په فني لحاظ هم تر ډېره حده برابرې او معياري افسانې ليکل کېدې ـ

دويمه دغه خبره چې:

> ''د هغه وخت نه مې بيا نوې تازه افسانه نۀ ده ليکلې ـ هغه وخت چې زۀ نۀ پوهېدم چې افسانه به هنر غواړي ليکلې مې، او اوس چې پوهېدم چې افسانه واقعي هنر غواړي اوس ئې نۀ شم ليکلے'' [۱۳]

په دې خبره کښې هم د اختلاف ګنجائش شته ـ واقعتاً چې د دۀ ځينې افسانې زړې دي، مګر يو څو داسې دي چې هغه د اوس مهال دي ـ لکه له دې مجموعې څخه اوله افسانه 'رومال' په کال ۲۰۰۸ء کښې ليکل شوې ده ـ هر

کله چې سیال په خپله د دې معترف دے چې دا د دۀ د هاغه وخت افسانې دي کله چې افسانه نوې نوې پښتو ته راغلې وه . یا 'دے د پښتو افسانې له هُنر سره خاص بلد نۀ وو'. خو د دې افسانې د اشاعت سنه څخه داسې ښکاري چې دۀ په دې وروستو وختونو کښې هم افسانې لیکلې دي.

د دۀ دې یوولس افسانو څخه یوه هغه ده چې د افریقي اولسي ادب ''د لمر لوریانې'' څخه پښتو ته راژباړل شوې ده. دا یوه ډېره خوندَوره او په زړۀ پورې قیصه ده . چې سیال پښتو کړې ده . خو په دې کښې توجه وړ او اهم خبره د ژباړې لهجه، رواني، تسلسل، سوچه او عام پښتو کښې د رااړولو هُنر دے. د ژباړې په حواله یقیناً چې دا د سیال بریالي ده چې د یوې بلې ژبې قیصه ئې په هم هغومره هُنر پښتو کړې ده څومره چې د پښتو خپلو قیصو لره پکار وي.

دې کښې یو څو افسانې بیا هغه دي چې د فني لوازماتو ور اخوا ، د خوند او مقصد له رویه څۀ تاثر ئې خامخا لرلے. لکه: 'غنچه'، 'بله دنیا' او 'بې وفا څوک'. خو په 'ماتې' نومې افسانه کښې انسان دوستي که داسې وي لکه څۀ ډول چې دۀ د ډاکټر امین په کردار کښې راوړاندې کړې ده. بیا خو دې خدائے د مریضانو پړده پوش شي.

'روحي' نومې افسانه کښې (روحي) د یوې پېغلې جینۍ کردار دے. چې له خپلې سکه مور سره د ناسکه پلار په کور اوسېږي. د جینۍ ناسکه پلار شراب خور او یو څۀ ناسم سړے وي. کله چې دا د پېغلتوب شي. نو د ناسکه پلار ورته نیت خړ شي . د هغۀ په یو څۀ مردار حرکت جینۍ خپل ناسکه پلار اووژني. دلته کښې یوسوال راپورته کېږي او هغه هم د جینۍ په لاس کښې د اله قتل په حواله. یعني جینۍ قتل په کلاشنکوف کړے. خو په هغه زمانه کښې کلاشنکوف له کومه خوا راغے . په داسې زمانه کښې چې نۀ چا د کلاشنکوف نوم اورېدلے او نۀ ترې خبر. په تېره د پښتونخوا په سیمه. بلکې دا به لا په هغه زمانه جوړهم نۀ ؤ. نو په دې افسانه کښې په خپله د دې مشین استعمال، د دې افسانې د لیک زمانه یو څۀ شکوک پیدا کوي. ځکه چې د دې افسانې د چاپ زمانه ۱۹۲۲ او د خپرېدو ذریعه ئې ورځپاڼه ' شهباز' پېښور یاده شوې ده. خو دلته غالب امکان دا دے چې کلاشنکوف به په هغه

زمانه ایجاد نۀ ؤ او که چېرته ایجاد ؤ هم، نو د دې خبرې خو خورے امکان نۀ شي کېدے چې په دې سیمه چا پېژندلے یا لرلے وي .نو دلته 'روحي' ته دا نمونه اسلحه په لاس ورکولو له کبله د افسانې فني ګرفت یو څۀ قدر شډل ښکاري . بل په دې حقله د روحي له خوا ادا کړل شوې مکالمو څخه داسې برخي ګویا دا چېرته د مسرت شاهین فلمي انداز څخه متاثره ده .له هغه په تهانه کښې په جار ووائي :'چې هو ! ثبوت غواړې ؟ دا ما ویشتلے دے'.
او د کلا شنکوف ذکر ئې داسې راغلے .

'' ثبوت غواړې ؟ او که ثبوت غواړې نو بیا ورشه او په خپله ئې اوګوره چې د هغۀ په سینه کښې مې د کلاشنکوف ثابت جاجر تش کړے دے''.[۱۴]

دلته دوې خبرې کېدلے شي یو دا چې یا خو دا افسانه په هغه زمانه کښې لیکل شوې نۀ ده او که لیکل شوې هم وي، نو قوي امکان د دې خبرې دے چې وروستو په کښې یو بل چا سمونه یا لاس وهنه کړې ده . غرض دا چې د سیال د افسانوي مجموعو په لړ کښې تر اوسه هم دغه یوه مجموعه چاپ شوې ده .که څۀ هم ارواښاد افضل رضا د دۀ د یو ناول په سریزه کښې یوه بله افسانوي مجموعه 'ګل ځانګه' هم یاده کړې ده .[۱۵]
ولې حال دا چې په چاپي اثارو کښې ئې تر اوسه کومه بله مجموعه نۀ ده لیدل شوې .که څۀ هم د افضل رضا په څېر کفایت الله همدم هم د سیال کتاب 'پرخه په ګلونو'کښې د خپل یو نظم 'زما بابا ملګرے'په پس منظر کښې د دۀ یوه بله افسانوي مجموعه او دوه نور ناولونه ذکر کړي دي . دغه مجموعه ئې د 'مینه او وفا' او ناولونه ئې 'تنده' او 'ګل ځانګه'په نامه سره یاد کړي دي .ولې هلته افضل رضا چې کومه افسانه مجموعه 'ګل ځانګه' په نوم یاده کړې ده .
کفایت الله همدم هغه ناول ښودلے.
د کفایت الله همدم له نظم څخه هغه شعرونو ته پام اوکړئ:

دې ساه ډوبي او تربت شانې ماحول کښې
چې د 'میني او وفا' سندرې وائي
د پښتو د ادب باب بلل کېږي

چې د هر قسم ذوق ' تنده'پرې ماتېږي
افسانې ئې د ژوندون بس لکه 'گل خانګه'
چې په څوکو د ازغیو کښې ئې ژوند شي
نظم تر اخره ____________________-[۱۲]

د سیال له نثري اثارو څخه یو بل مهم کتاب د سندرې روح دے ـ چې د ګلنار بېګم د ژوند او فن په حقله لیکل شوے ـ

دا ګل نار بېګم د ژوند او فن په حقله یو ډېر ګټه ور، غوره او سکه معلومات لرونکے کتاب دے ـ دا کتاب په دوو حوالو سره د قدر او ارزښت وړ دے ـ یو خو په دې کښې د ګلناربېګم فن و شخصیت ډېر واضح کړل شوے ـ بل دا چې د ځینو مواردو په اساس یو څۀ قدر تحقیقي بڼه هم لري ـ

د دې کتاب په ابتدائي برخه کښې سیال په خپله د ګلنار بېګم د ژوند او فن په حقله څېړنې او یو لړ معلومات راوړي ـ بیا وروسته د هغې د ژوند او فن په حقله د یو لړ ځینو نورو شخصیاتو تاثرات دي ـ

## فوکلور او سیال :

هغه ادب چې په یوه ټولنه کښې یا په یو قوم د عام خلقو له خُلې راټوکېدلے وي ـ د هغه قوم یا د ټولنې شریک مال بلل کېږي ـ دا په یو ځا یا په یوه خاص علاقه پورې مخصوص نۀ وي ـ بلکې دا د یو ملت د عام او خاص مشترک ادبي ورثه وي ـ دې کښې یو څۀ اصناف بیا داسې دي چې جوړونکي ئې شاعر ئې معلوم وي ـ خو هغه مونږ په دې لحاظ د اولسي ادب برخه ګڼو چې هغه داهنګ او طرزِ انداز له کبله په اولسي ورګډ بللے شي، نۀ چې د اولسي ادب د ړومبي تعریف په مصداق د اولسي ادب برخه وي ـ یعني له فولکلور څخه مراد هغه ادب دے چې د خلکو د رواجونو، دودونو، کړو وړو او د ژوند ژواک له دودونو څخه خُلۀ په خُلۀ رانقل کړل شوے وي ـ

چونکې د دې مقالې موضوع د فولکلور تعریف و توضیح او پس منظر بحث کول نۀ دے ـ بلکې د سیال په تالیفاتو او نثري اثارو تر څنګ د هغۀ سپړدلي فولکلوري اثارو ناقدانه جائزه اخیستل دي ـ په دې لړ کښې به دسیال کتاب 'هغه سندرې چې فوک نۀ دي' څخه اخذ فولکلوري اثارو ته اولیت ورکولے شي

ـ دا بحث به په څو ډوله وي ـ لومړئ د هغه اولسي اصناف چې خاص دي ، باندې به په خصوصيت سره بحث کول وي لکه کسر ـ د کسر په راسپړدلو کښې سيال د خپلې سيمې ځينو خاص تاريخي پېښو په حقله ډېر ګټه ور او په زړهٔ پورې معلومات راوړي دي ـ لکه د بنو په سيمه د شويشته عزيز په حقله وئيل شوے کسر ـ د دې کسرد وئيلوزمانه ۱۸۵۸ء ښودل شوې ده ـ [۱۷]

داسې معلومېږي چې شويشته عزيز د خپلې علاقې يو ډېر مخه وريز او نوميالے سړے ؤ ـ چرته ئې له يو چا سره بدي وه ـ د هغهٔ دښمنانو د دهٔ د مرګ بينا د دهٔ د يو نزدې ملګري په اعتماد کښې اوتړله ـ دے ئې بيا په اعتماد کښې مړ کړلو ـ نو دلته د دې کسر په راوړلو سره د سيمې د تاريخي شخصياتو په حقله يو څهٔ ګټه ور تاريخي معلومات هم په لاس راتلے شي ـ خو دا بيا د تاريخ پوهانو کار دے ـ

خاص اولسي سندرو څخه کسر په وئيلو او جوړولو کښې ځان ته يو طرز لري ـ

> "کسرصرف سړي وائي چې د تورې او د مړانې ذکر وي په کښې، کوم څوک چې بزدلي ښکاره کړي د هغه غندنه کېږي ـ په کسر کښې د دوو قبيلويا د خپلوانو په مينځ کښې د جنګ جګړې حالات او واقعات بيان کړے شوي وي". [۱۸]

خو سيال د حيات افغاني د دې خبرې په رد کښې دا مثال وړاندې کوي چې کسريوائې سړيو له خوا نا ، بلکې د ښځو له خوا هم وئيل شوي دي ـ سيال ئې مثال داسې وړاندې کوي:

> "که اوکتل شي نو د زارخانګې په اواز کښې د ګل بادشاه کسر يا د کشور سلطان په اواز کښې د چمني خان کسر او يا د ګلنار بېګم په اواز کښې د بخت منيرکسرڅومره شهرت لري ـ نو د دې نه ثابتېږي چې کسر سړيو نه علاوه ښځې هم وئيلے شي صرف سړي نه". [۱۹]

خو دلته له ښاغلي سيال څخه په معذرت سره وائيو چې: د کسر وئيلو په حقله د حيات افغاني خبره د تائيد وړ د ه، نهٔ چې د سيال ـ ځکه چې کسر د سړيو صنف دے نهٔ چې د ښځو ـ

که ښځې ئې چرته ووائي نو د دې مانا دا نۀ ده چې هغوئ کسر د سندرو په دود نۀ شي وئيلې. دا به خود داسې شوي وي. خو حال دا چې کسر په هره حواله سره د سړيو صنف دے نۀ چې د ښځو.

په دې لړ کښې سيال يو بل کسر چې پيرغلام نومې شاعر وئيلے، کښې د بنو په سيمه د انګرېزانو په خلاف د وطن پالو د يوې واقعې ذکر دے. د کسر يو شعر داسې دے چې:

پيرنګـي نـه ئـې سـر يـوړ پـه پنجـې شـې
ولايت مېمې په خلې شې ګوتې کشې شوې [۲۰]

## غاړه :

غاړې بيا په څو ډوله دي يو هغه چې د کاکړي غاړې په نوم مشهورې دي. بل هغه چې وزيرۍ او تيراهي غاړې يادېږي.

سيال چې د غاړې څۀ ډول تعريف کړے هغه داسې دے :

''غاړه د کسريو قسم دے چې کله په يوه مصرعه کښې وي کله په دوې مصرې کښې وي او کله په دريو کښې جوړ شوے وي او کله داسې هم اوشي چې يوه مصرعه ئې لنډه وي اوبله اوږده وي. خو ردم ئې پوره وي'' [۲۱]

خو د غاړې په حقله د پروفيسر فضل مير ختک فضليات که اوکتلے شي نو په هغې کښې د دې څۀ داسې توضيح کړل شوې ده چې.

''غاړې د لنډ بحر سندرې ته وائي، هر يو بيت يا شعر ئې سره په بيله بيلو قافيو وي . د جوړښت په لحاظ دا په درې ډوله ښودل شوې دي، لکه د دې يو قسم هغه دے چې هره مصرعه ئې اووۀ اووۀ سيلابه وي، دويمه هغه چې هره مصرعه ئې اتۀ اتۀ سيلابه وي او دريم قسم هغه چې يوه مصرعه ئې اووۀ

سېلابه او بله مصرعه ئې اتۀ سېلابه وي ـ خو بالعموم لومړۍ
دوه نمونې زياتې پيدا کېږي" [۲۲]

خو غازي سيال چې د غاړو کوم طرز ښودلے، له هغو څخه هغۀ دغه لاندينۍ يوه غاړه د نمونې په توګه راوړې ده ـ

د ښووون سخته لرګيه!
ترق به اوچوې که خبر شوې
د ځوانانو له مرګيه [۲۳]

دې ته سيال غاړه يا کاکړې غاړه وئيلي ـ خو دا کاکړې نۀ ده بلکې دا وزيرۍ اولسي ساندو څخه ده ـ چې عموماً ئې ښځې د يو غښتلي، نازولي، ځواني مرګي يا د يو چا په ډېر ارماني مرګ باندې وائي ـ چې اوس هم په وزيرو، مسعودو او بېټنيو کښې خال خال لادود دي ـ پرته له دې په دې بحث کښې سيال يو لړ داسې سندر غاړي هم راپېژندلي، چې د دې تر مخه ئې د ژوند او فن په حقله کوم خاص معلومات چا ته نۀ ور معلوم ـ لکه د مثال په ډول حنيفه نومې سندر غاړې چې د بنو د منډان دسيمې اوسېدونکې وه او د زوکړې نېټه ئې ۱۹۲۰ قياساً ښودل شوې ده ـ [۲۴]

سيال د حنيفې له سندرو څخه يو لړ په زړۀ پورې سندرې هم رانقل کړې دي ـ لکه دا يوه سندره چې:

راوړه بندۍ بندۍ چې اوپېرونه
جانانه بېرې له راځه چې اوځانګونه [۲۵]

د دې سندرې د جوړښت په حواله سيال صاحب ليکي چې:

"سحرګل بنوڅے چې يو عوامي شاعر ؤ ـ دا پاسنۍ سندره هم سحرګل بنوڅي رابرڅېره کړې وه ـ حنيفې ته ئې ورزده کړې وه" [۲۲]

د دې برني متن صداقت په خپل ځائے خو د دې سندرې په کړو وړو که نظر واچولے شي نو له دې څخه دا خبره په ډاګه کېږي ـ چې دا حنيفې وئيلې ده ـ د وئيلو طرز ورلره سحر ګل بنوڅي ورکړے ـ خو په اصل کښې دا يوه اولسي سندره ده ـ بل د دې متن هم دا رابنائي چې 'سحرګل بنوڅي رابرڅېره کړې ده ـ

نۀ چې د هغۀ له خوا اول جوړ کړل شوې ده. ځکه د وئیونکي او طرز جوړونکي له لحاظ سندره بنو پورې نۀ شي مخصوص کېدلے. بلکې دا یو عام اولسي سندره ده.

دغسې د دې کتاب په تل کښې وینو چې سیال د بنو د سیمې د یوې بلې سندر غاړې گوهر بېگم ژوند او فن په حقله هم ډېر گټه ور معلومات را مخې ته کړي دي. گوهر بېگم چې کال ۱۹۲۰ء خوا او شا ئې د زېږېدو نېټه یاده شوې ده. د کتهک ډانس یوه نومتو رقاصه (ډانسره) وه. د گډا سره سره به دې ښکلې اولسي او خاص سندرې وئیلې. که څۀ هم د هغې د فن وجه شهرت د دهغې کتهک ډانس وو چې یو خاص نوم ئې په کښې پیدا کړے ؤ. خو په علاقائي سطح د نوم شهرت ئې له هغو سندرو څخه دے کوم چې هغې د وزیرې سندرو په وئیلو سره گټلے وو. دا لاندینۍ یوه وزیري سندره ئې داسې ده:

دا لېونۍ بنگې چا کړلې دینه
بنگولېونےکړې جانانه [۲۷]

یوه بله مشهوره او ښائسته سندر غاړې نسیم اختر د حسن او رقص په دنیا کښې ئې هغه وخت چرچې وې، سیال د هغې د ژوند او فن په حقله هم ډېر گټۀ ور معلومات راوړي دي. د دې د زېږېدو نېټه ئې ۱۹۴۸ خوا او شا یاده شوې ده.

پرته له دې سیال د پښتو یو شمېر ډېرو نومتو سازیانو د ژوند او فن په حقله هم ډېر اړین او کره معلومات بیان کړي دي. لکه وتلے سندر غاړے شېر افگن د ژوند او فن ډېرې خواوې ئې قارئینو ته مخې کښېښودې دي. شېر افگن استاد یوه ډېر مشهوره سندر غاړې وو د هغۀ په اواز کښې یوه سندره سیال داسې راوړې ده.

توره بهرام خانه
څنې دې غوړې که چې باد ئې رېوینه [۲۸]

خود دې سندرې سر ټکے يو څۀ نيمګړے غوندې ښکاري. په وزيرو او ځينو نورو قومونو کښې د سړيو په اتڼ کښې د دې سندرې وېنا څۀ داسې اورېدل کېږي چې:

توره بهرام خانَ نوابَ!

او د دې دويمه مصرعه کښې 'ځنې دې غوړې که چې باد ئې رېوينه' پسته بيا هم هغه اول لنډه مصرع تکراروله شي لکه:

توره بهرام خانَ نوابَ!

ځنې دې غوړې که چې بادئې رَېوينه

نوابَ!

يوه بله سندره چې سيال صاحب په مروتو پورې منصوب کړې ده:

وَرې مَروتې

مَروتې واچول د کرمې په بندينه

خفا ئې مه کې [۲۹]

په دې لحاظ دا مروت واله ګڼل چې دې کښې د مروت ټکے راغلے. د نسبت دليل نۀ شي کېدے. ځکه چې فوک سندرې (چې د يو چا د حسن او يا د هغوئ ملي سپکوے په کښې شوے) داسې نۀ وي چې يو څوک ئې په ځان پورې جوړوي. بلکې داسې سندرې بالعموم له يو قوم څخه بل قوم پورې وئيلې شوې دي. لکه دا يوه سندره چې د رُخسانې په ښکلې غړ کښې وئيل شوېده:

وو دې تنګې مستې ځدرونې

جينَکۍ ژوړې

چې ووړکې بيا کابل ته ځينه...

دغسې يوه بله د اتڼ سندره ده چې:

وو دې تمبې ځدرونې

پلور دې صبېدور دے

د زيږ پټکے دې په ايمرې مزې جوړ دے

دا کله هم ځدرانو په ځان پورې نۀ دي جوړې کړې. بلکې دا د پکتيا او وزيرستان نورو قومونو له خوا ځدرانو پورې وئيل شوې دي.

د دې سندرې هره مصرعه ته یو ځل بیا سوچ اوکړئ چې د سندرې هره کړۍ کښې څۀ وئیل شوي دي او کومه خوا ته په کښې اشارې شوې دي ـ

اوله کړۍ : وړې مروتې

(دې کښې تانیث ته اشاره ده ـ)

دویمه کړۍ : مروتې واړول دې کرمې په بندینه

دې کښې 'مروتې' د ګرائمر او لهجوي تلفظ له رویه لنډیز دے د 'مروت ئې' ـ نو دلته د 'ئې' په اضافت سره مصرعه داسې شوه ـ

مروت ئې واړول دې کرمې په بندینه

هم په دې دویمه کړۍ کښې 'بندینه' ټکے استعمال شوے ـ چونکې په عام معیاري لهجه کښې د دې ټکي تلفظ 'بندونه' دے نۀ چې بندینه ـ اوس په مروت واله لهجه کښې که مونږ د دې توري استعمال ته ځیر شو ـ نو په مروتو کښې د معیاري لهجې په ځېر د دې تلفظ هم 'بندونه' دے نۀ چې 'بندینه' ـ دغسې د سندرې دریمه کړۍ چې :

خفه ئې مه کې (دې کښې یو ځل بیا تانیث ته اشاره ده)

د برنیو نقطو په اساس که د دې سندرې پس منظر او تاریخي رېښې لټول مقصود وي ـ نو به د مروت قبیلې جغرافیه، تاریخ او هم د هغوئ د ګاونډي ورونو قومونو تاریخ او یو لړ تاریخي روایت او هم دغسې د دې سندرې لهجوي ساخت به کتل غواړي ـ دویم دا چې په دې سندره کښې چې کوم ډول لهجه کارول شوې ده هغه له کومه ده ؟ چونکې د دې سندرې طرز او خاص ټکي د وزیري لهجې عام توري دي ـ (په دې اړه بعد کښې بحث را روان دے) ـ ځکه نو د دې سندرې د اصل ځېړنه یواځې د دغو قومونو په تاریخ او د لهجو ساخت په ځېړنو کښې زیات واضح دے ـ

د دې سندرې پس منظر هغه تاریخي پېښه ده کومه چې د احمد زئ وزیرو او مروتو تر منځه د علاقه ډومېل په خاوره شوې وه ـ دغه پېښه د انګرېزانو تر راتګ د مخه او له سیکه شاهي څخه یو څۀ زمانه وړاندې رامنځته شوې وه ـ په خوا دغه علاقه له برګنتو څخه نیولې تر لنډي جالندهر پورې له مروتو سره وه ـ خو څۀ موده بعد په دې علاقه د وزیرو او مروتو تر منځه جنګ اوشو ـ

مروت له دې سيمې څخه په شا لاړل او وزيرو دغه علاقه قبضه کړله ـ د مروتو جنګيالي له وزيرو څخه تر کُرمې را په شا شوي وو ـ واقعه اوږده ده خو په لنډه توګه قيصه داسې ده چې کله په دې جنګ کښې مروت له وزيرو څخه د کرمې تر بندونو لاړل، نو دوئ سخت ستړي ستومانه او تږي شوي وو ـ يو ځائے کښې چرته د کرمې په غاړه يو څو مروتو د اوبو منګي په سر راخيستي وو ـ دوئ تږنه د ښځو له پاره اوبۀ اوغوښتې ـ خو دغو غېرتي مروتو انجونو ورته انکار اوکړو ـ او هم ئې دا پېغور ورکړ چې : "يو موټے سړي دي او تاسو دا دومره رمه ځوانان ترې په تېښته يئ" ـ چونکې پښتون په پېغور مړ دے ـ ځکه د مروتو شازلمي هم دې پېغور ته تېنګ نۀ شول ـ سم د لاسه وزيرو پسې ورغبرګ شول او د پېغور عکس العمل ئې لکه د مېوند د غزا ښکاره کړو ـ

په دې سندره کښې دا ټکے چې :

خفه ئې مه کې

که څۀ هم د وزيرو او مروتو تر مېنځه جنګ شوے ؤ ـ مروتو بائېلات کړے وو ـ مګر د جنګ له کبله چې د هغوئ تورسرو او نور واړو زاړو ته کوم مشکل پېښ شوے وي ـ په هغې باندې د وزيرو ښځو خپل د خفګان اظهار په دې مصرعه کښې ښودلے ـ

د سندرې وزيري دوديا لهجوي طرز يو نظر بيا اوګورئ :

وړې مروتې

مروت ئې ووړول دې کرمې په بندينه

خفه ئې مه کې

په وزيري ښځينه اتڼ کښې دا ټکے هم ورباندې کېږي چې :

مروتې واړول زيږ ګلي ريمولينه (رومالونه)

خفه ئې مه کې

ځکه دا د وزيري اتڼ يوه عام سندره ده ـ چې د سړيو او ښځو په اتڼ کښې يو شان وئيل کېږي ـ

عارف غروال هم په لږ ډېر تغير سره داسې راؤړې ده :

وړې مروتې

مروتې واړول د کرمې په بندینه
وړې مروتې

غروال د 'خفه ئې مه کې' په ځائے هم هغه د سر لنډه مصرعه بیا تکرار کړې ده۔ د اولسي سندرو په لړ کښې دا یوه سندره چې سیال صاحب ئې کړۀ وړۀ د بنو ښودلي دي داسې ده:

دا چا ویشتلےئې زما بې غوره یاره
خوب خوب دې وړینه [۳۰]

خال دا چې دا یوه عام اولسي سندره ده۔ بالعموم د ښځوله خوا د ناستو په صورت کښې وئیل کېږي۔ بل دې کښې کوم داسې تورے یا نسبت نۀ شته چې د هغې له کبله دې دا بنوڅۍ لهجه ته خاص کړل شي۔

یوه بله سندره چې:

داپته ئې نشته چې په کوم ګودرئې چوک دے
یارته مې دې چرسې چیلم ډک دے [۳۱]

دې کښې دچوک د توري په بنیادغه سندره بنو ته منسوب کول به سمه نۀ وي۔ ځکه چې په بنوڅۍ لهجه کښې چوک ته حجره اویا بېټک وئیلې شي۔ خو بیا هم دا بنوڅۍ سندره نۀده۔ بلکې دا د وزیرو د ښځو او بالخصوص د ښځود دروندا تې سندره ده چې د وادۀ په اتڼونو کښې وئیله شي۔

په دې تسلسل کښې یوه سندره چې د اوښ یا اوش نوم په کښې استعمال شوے سیال هغه د دې توري په بنیاد مروت واله سندره ښودلې ده۔ سندره داسې ده چې۔

وه دې اوشې واله راتم شه
دومره راتم شه چې دې اوکړم دیدنونه [۳۲]

دا مروت واله سندره نۀ ده بلکې وزیرۍ سندره ده چې ورا بانړې (ورا پسې شاته روان خلق، ورا کښې شریک خلق، بالخصوص ښځې او جینکۍ) چې د کجاوې په اوښ پسې شاته روان وي، نو هلته دوئ دا نمونه سندرې وائي۔ چونکې اوښ بان د ورا سرته روان وي او نور ورابانړې څوک نږدې او څوک ترې لرې شاته ورپسې روان وي دغه وخت دوئ یعنې ورا بانړې خلق سخت ستړې

شوي وي ، د ټولي شکل کښې ورو ورو روان وي. د روان حالات سندرې وائي. چونکې دا قسمه سندرې د ورا سندري دي .په وزيرو کښې ښځي عام دي. ځکه دلته د اوښ يا اوش ټکي استعمال له کبله دا سندره مروت واله جوړول سم نۀ ښکاري. دا په وزيرو کښې تر اوسه پورې دود دي او د ورا ښځې ئې اوس هم وائي. په وزيري کښې دا سندره داسې جوړېږي چې:

وو دې ايشې وولـه روتَم شه (وو دې اوښې واله را تم شه)
دَمره روتم شه چې دې ؤکړۀ ديدَنينه
روتم شه
(دومره راتم شه چې دې اوکړم ديدَنونه) (را تم شه)

د اوښې په حواله يوه بله اولسي سندره ده :

نيمې شپې دي نيمې شپې دي خيالي ننداني وائ سرې اوښې باريږي
د نيمو شپو اورونه بل شول وائ نيمې شپې دي نيمې شپې دي
خيالي ننداني وائ سرې اوښې بارېږي
ليلٰی په سرو منګلو غنې ماتوينه وائي نيمې شپې دي سرې اوښې بارېږي [۳۳]

يوه بله سندره چې د بنو بازار د ښکلا او ننداري په حقله جوړه کړل شوې ده:

پاس په سينه به درته جوړ بني بازار کړم
تا به په واکدار کړم [۳۴]

دا هم د بنو د سيمې نۀ ده ځکه چې د بنو يو اوسېدونکي لره د دې خبرې څۀ ضرورت پېښ شوے چې هغه دې خپل محبوب لره د هغه مزو او خوندونو وړانديز اوکړي، له کومو څخه چې د هغۀ محبوب هېڅ نابلده نۀ دے .بلکې دا د هغو خلقو لـه خوا وئيل شوې سنره ده چې د بنو حُسن او د بنو د مازيګر د رنګينيو په ارمان دي . يعني دا د بنو څخه بهر د کومو خلقو جوړ کړل شوې سندره ده . چونکې د بنو په مضافتو کښې درې لوري ته وزير پراتۀ دي او وزير له زمانې راهيسې د بنو بازار د سېل لپاره پاتې شوي او هغوئ لـه لرې لرې ورته راځې .ځکه دا په هېڅ قيمت د بنو سندره نۀ شي کېدے.

يوه بله سندره چې سيال د بنو ياده کړې ده:

بنګو لېونے کړې په چوکو کوې خوبونه

بنګولېونے کړې جنانه [۳۵]

د دې سندرې يو صورت داسې دے چې :

بنګولېونے کړې جنانه

اوس په چوکې کوې خوبينه

بنګو لېونے کړې جنانه (ډېر په مدهم، ټيټ او سوکه غږ سره)

دې کښې هم هغه د چوک توري په راتلو سره سيال دا سندره د بنوڅۍ لهجې ښودلې ده ۔ ولې دا له بنو والې لهجې سره هېڅ کوم نسبت نۀ لري ۔ په دې حقله تفصيلي بحث په يوه بله سندره کښې ښودل شوے ۔

پرته له دې يوه بله مشهوره اولسي سندره چې د زارځانګې په اواز کښې وئيل شوې ده او سيال ئې د بنو لجې ښائي داسې ده چې :

د ګل ببري پيسې دې ډکې دي د ګلو

په لوړ ولاړې جلې [۳۶]

دا سندره هم سيال بنوڅۍ لهجه ته منصوب کړې ده او د سندرې طرز ئې داسې راوړے:

د ګل ببري پيسې دې ډکې د ګلې

په لوړ لاړې جلې [۳۷]

خو دا يوه وزيري سندره ده چې د سرېوپه اتڼ کښې وئيله شي ۔ د دې وزيرے طرز داسې دے۔

دې ګل بوبري پيځکې دې ډکې دې دي ګلې

په لوړ ويلوړې جلې

رو وووړه (را واوړه)

عام پښتوئې داسې ده چې :

د ګل بُبري پيځې دې ډکې دې د ګلو

په لوړ ولاړې جلې

راواوړه

زمونږ د سيمې يوه بله مشهوره سندر ده چې :

وېړکي پرېټ کو، جينه کو په ريمولينه

زيړه لشته په ګلينه زيړه لشته په ګلينه [۳۸]

د د وزيرو د اتڼ يوه عام اولسي سندره ده چې د خوښيو په موقع ئې سړي بهر په اتڼونو کښې وائي. دا سندره د وزيرو مشهور سندرغاړي شهباز خان وزير هم ځو ځو ځله وئيلي ده. د دې سندرې وزيرے طرزداسې دے.

وورکي پَربړکو جينۍ کو په ريمولينه

زيړه لشته په بندينه ، زيړه لشته

د دې نسبت له سپرلي سره نۀ دے بلکې دې کښې يوې خوا که زلمي په رومالونو سره پربړ کوي نو بلې خوا د جينکيو په لاسونو کښې په رومالونو سره اتڼ کول يو خاص ملي دود ته اشاره ده.

دا لاندينۍ سندره چې سيال بنوڅۍ لهجه ته منسوب کړې ده. په دې کښې طرفي لوړتيا او برناحق علاقائي فوقيت راوستل شوے:

زۀ لټ پټي کوتره شوربڅم لره بره

خرڅکے نۀ يم چې په پړي باندې وير کوم

سپل د کشمير کوم [۳۹]

دا د وزيرو، پکتياوالو ، پاونداؤ يا د کوچيانو اولسونو د کوچياني ژوند د وخت سندره ده. چونکې د دوئ کډې به د ژمي او ووړي د موسمونو په حساب له يوې علاقې څخه بلې علاقې ته کوچېدلې. په دې لحاظ د دوئ انجونه به د ابادو علاقو د انجونو په لحاظ زياتې سپل ګرې اوسترګه ورې وې. يعني په دې کښې د يوې کوچۍ پېغله په دې وياړي چې زۀ د خرڅکي په څير نۀ يم چې يو انګڼ کښې په يو تړلي پړي خرخم را څرخم. دلته له خرڅکي څخه مراد د مستقل اباديانو ميشتې انجونه دي. او خپل ځان له لټ پټي کوترې سره مشابه کول په معنا د يوې ازادې او سپلنۍ ترې مراد دے چې ډېر ملکونه ئې ليدلي. چونکې کور ناستې پېغلې هغسې وي چې نۀ ئې ښکته ملک ليدلے وي او نۀ پورته. دې کښې کوچۍ پېغلې د سپل ګرۍ، ازادۍ او برترۍ احساس دے. پرته له دې د 'خرڅکي' تورے يوائې بنو لهجې ته مخصوص نۀ دے. بلکې دا په کرلاڼي لهجو کښې هر چرته عام دے.

هغه وزيري سندره چې د 'لاجمدر تورے 'په کښې په 'جالندهر' اړول شوے ـ په حقله د سيال توضيح په ځائے ده ـ د سندرې ناسم شکل داسې دے.

سرې سترګې خمارې بانړه دې جالندر دينه
تيک مې دړې وړې دا چارې دې زرګر دينه [۴۰]

سيال د دې سندرې اصل څۀ داسې ياد کړے.

سرې سترګې خون بارې بانۀ مې لاجمدر دينه
تيک مې دَړې وَړې دا چارې دې زرګر دينه [۴۱]

د دريا کرم په حواله يوه مشهوره سندره چې غازي سيال په خپل کتاب بيابيا ذکرکړې ده ـ نسبت ئې د بنو سيمه ، په بنو کښې د ګلنار بېګم وادۀ کېدل او د په لمرختيځ اړخ تېرېدونکې دريا کرم سره کړے ـ چونکې دا يوه عام اولسي سندره ده چې له زمانې په پښتنو کښې دود ده ـ ولې هر کله چې دا په لومړي ځله په راډيو کښې د ګلنار بېګم له خُلې و اروول شوه نو له دې څخه دا غلط فهمياني پيدا شوې ، ګويا چې دا ګلنار بېګم جوړه کړې او هم بس دغه د بنو تر څنګ بهېدونکې کرمه ترې مراد ده ـ د سندرې طرز ئې داسې دے:

ژورې کرمې ته نصيب را اړوې يمه
جنانه لاس راکړه چې دواړه سره ځو نه [۴۲]

د دې سندرې په سر کښې يو څو ټکې دا هم شامل دي چې:

نرے باران دې پاس په لوړو ئې ورَوينه
او بيا پسې هم دغه بره نوره سندره شروع شي.

خو بايد ووائيو چې دا سندره نۀ خو د ګلنار بېګم بنو ښارته وادۀ کېدو سره کوم تعلق لري او نۀ په بنو کښې د هغې د ژوند په رازونو پورې څۀ پېوند اخلي ـ هم دغسې دا سندره په هېڅ صورت يواځې د بنو ښار غاړې دريائې کرم ته نۀ ده مخصوص ـ ځکه چې دريائې کرم يواځې بنو ښار يا د بنو سيمې څخه نۀ دے راپورته شوے ـ بلکې دا درياب بره ډېر لرې له لوړو غرو څخه کښته رابهېږي ـ چې د بنو څخه لږ کښته او د مروتو په شاړو کښې بالاخر د دره تنګ په دروازه اباسين سره يو ځائے کېږي ـ ځکه دا سندره نۀ خو د بنو ده او نۀ له ګلنار بېګم سره پرته له دې کومه بله اړيکه لري ، چې هغې په جديد دور کښې په اول ځل

په راډيو کښې وئيلې ده .بلکې په حقيقت کښې دا د يوې کوچۍ پېغلې ارماني سندره ده چې له لوړو غروڅخه را کوچېدلې ده او ښکته د کرمې په غاړه ئې کېږدۍ اودرولې ده .په داسې مهال کښې کله چې پورته په لوړو غرو نرے نرے باران را وربړي او دا د کرمې په غاړه ناسته له ډېره خياله د خپل محبوب په ياد کښې په غاړې سر شوې ده نو ترې دا سندره صورت شوې ده.
يوه بله سندره چې:

که نيسي طبيبون لوسينه نيسي

په سپين مړوند مې ګوتې ږدي مخ ته مې کسي [۴۳]

دا هم هغۀ د بنو د سيمې سندره ياده کړې ده. خو دا د وزيري اتڼ سندره ده چې ښځينه ئې د روان اتڼ په وخت وائي .دا عموماً د پاخۀ يا سنجيده عمر ښځې ډېر په ورو ورو او دروند غږ اولږ په سوکه انداز سره وائي .دا سندره اوس هم په وزيرو کښې ده او په اتڼونو کښې وئيله شي.
يوه بله سندره چې ورا يا په وادونو کښې وئيله شي :

شپېژميه ! سر وايه په غرې شاه لونګينه نا

پېزوان مې وړے دے سورې چې رو وړينه نا [۴۴]

دا د ورا سندره ده .په خوا دا دود ؤ چې هرې ناوې ته به پېزوان ارو مرو جوړولے شو .بې له پېزوانه د ناوې د وادۀ کېدو يا قسم ته ناوې او د هغې پلار ګنۍ ته پېغور بلل کېدۀ.پرته له دې په دې سندره کښې هم د پېزوان په حواله ټول کړۀ وړۀ واضح دي. يعني د ناوې د وادېدو ورځ ټاکل شوې ده.د هغې د پلار له کوره سوارۀ سرې تللي دي.چې له زرګر څخه د هغې پېزوان راؤړي.ولې په هغوئ ماښام شوے. سوارۀ لا تر اوسه کورته نۀ دي را رسيدلي .مخکښې لا هم تيارۀ ورباندې را روانه ده .په داسې حالاتو کښې د ناوې همځولو يا په خپله ناوې ته انديښنه ور لوېدله ده ، هسې نه چې په تيارۀ کښې سوارۀ چرته لار غلطه کړي.بلې خوا هلته د ورا د خلقو ورته د راتلو وخت هم شوے.په دې دوران کښې د ناويز کلي انجونه دا سندره وائي .خو په دې سندره کښې لږ معمولي فرق دا هم دے چې.
شپېژميه سر وايه په غرې ، شاه لونګينه نا

پېزوون مې وړے دے سورې رو وې ورينه نا
دلته 'رو وې' (رابې ـ را به ئې) کښې مصرعه خلاصېږي .په عام پښتو کښې د دې طرز داسې دے .
سپوږميه سر وهه په غرو شاه لونګينه نا
پېزوان مې وړے دے سورو رابې وړينه نا
د سندرې مزاج ، مفهوم ، لهجه او علاقائي نسبت ښۀ واضح دے .ځکه دا د بنو نا بلکې وزيري سندره ده.
يوه بله وزيري سندره چې غازي سيال ئې طرز داسې راوړے .

دا تور زونړے
خت ترغوړې لوندې که ريمولې [۴۵]

وه داتور زونړے
بل ځائے په تکرارسره هم دغه سندره بيا داسې راوړل شوې ده :

خت ترغوړه لوندې که ريمولې
وه دا تورزونړے [۴۶]

په وزيري کښې د دې دود څۀ داسې دے چې:

دا تور زينړے ،دا تور زينړے
خت په غوړه لوندې کريمولې
وو دا تور زينړے، دا تور زينړے

دغسې دا لاندې سندره چې سيال د بنو په حواله ياده کړې ده:

په روچوه دا شنې بلونځې چې اير بلېژي
ورکه عاشقي شه تېوله شپه مې سرخوژېژي [۴۷]

دې کښې 'بلونځې' تورے چې يو بوټي له پاره استعمال شوے ، په اصل کښې 'بلونځې' نۀ دے بلکې 'بَلنځې' دے .سيال دا بوټے د غرو ياد کړے .خو دا په غرو کښې نا بلکې د ميداني او د شګو(مَيره) يا ريګستاني علاقوبوټے دے .د وزيرو ، مروتو او خټکو په هاغه علاقه کښې چرته چې شګه زياته ده اوس هم عام دي. دا يو قسم ته داسې بوټے دے چې نرۍ اوږدې پاڼې لکه د غز لري. لرګے ئې ډېر خرسن او نرم دے .په تنده ډېر سخت او له نمر څخه زيات نۀ

کرغېړن کېږي ـ هور ئې تېز ، هيره ئې صفا او سپين چاکه شانته وي ـ په نسوارو کښې زياته استعمالېږي ځکه دا قيميتي هم ده ـ

د وزيرو د اتڼ عام سندره ده ـ کله چې د ژمي په موسم کښې ځوانان سره د يوې خوابنې په مناسبت سره را ټول شي ـ نشي تماشې شروع وي ، اورونه بل کړل شوي او چارچاپېره ترې اتڼ اچول شوے وي ـ په وزيري کښې د دې سندرې طرز داسې دے۔

پې روچَوه دا شنې بَلنځې چې يور بَلېژي
ورکه عاشوقي شه ټوله شپه مې سرخوژېژي
په رو چوه دا شنې بَلنځې

يوې خوا د بوټي نازک والي ته اشاره ده، بل د شنهٔ بوټي سوځېدل او له هغه ځخه چې کوم دهود يا لوګے پورته کېږي ، هغه درحقيقت دوئ ته د چرسو د لوخړو په څېر ښکاري چې دوئ ورباندې مستي کوي ـ

يوه بله اولسي سندره چې سيال د بنو يو کالجي شاعرته منسوب کړې ده داسې ده چې :

وهٔ سپينې کونترې
څوک دې لېوني کړل څوک دې اويستل دې چارې
وهٔ سپينې کونترې [۴۸]

د دې په حقله سيال صاحب ليکي چې:

''دا سندره هم په ټپه اډانه شوې ده ـ خالصه بنوڅې سندره ده شاعرئې بنوڅې دئ، يو تعليمافته ګرېجويټ زلمے چې د پوډروپه نشو را ويښتے شوے وو ـ ډېره ښکلې شاعري ئې کوله، د کالج په زمانه کښې ئې ښې غزلې ليکلې، ادبي پروګرامونه ئې کول، چا ظالم په نشو عادتي کړو ، هر څهٔ نيمګړي پاتې شول، ......او پوډري په نوم ياد شو، په خپله شاعري کښې ئې خپلې خيالي محبوبې ته د 'سپينې کونترې' يعني 'د پوډروسپينه پوړۍ' ياده کړې ده'' [۴۹]

دا بره اقتباس ډېر مبهم او ستونځمن دے ځکه چې اول خو د دې کالجي هلک هېڅ نوم نتګښ نۀ دے ښودل شوے۔ په کار دا وه چې د دۀ يو څۀ سابقه لاحقه خو وے۔ دويم دا سوال راپورته کېږي چې ايا پوډر په هغه زمانه وو هم کله چې دا سندره جوړېده ؟۔ پرته له دې د دې شاعر نورې سندرې، اشعار او يا څۀ اثارهم شته او که بس دا يوه سندره ئې اوويله او لېونے يا پوډري شولو؟

دا ممکنه نۀ ده او نۀ تحقيق د دې قائل دے چې څوک دې په دې دود مشهور شي۔ ځکه دا يوه اولسي سندره چې پخوا وئيل شوې ده۔ له کالجي سره ، د هغۀ له ميني او پوډري کېدو سره هېڅ کوم تړون نۀ لري۔ دا بيله خبره چې په رېډيو کښې کله اووئيله شوه۔ چا اووئيله او د چا په نوم مشهور شوه۔ دا د فولکلور اړينه مسئله نۀ ده بلکې د فولکلور خاصه هم دا ده چې هر څۀ په کښې د عام اولس وي۔

په اولسي ادب کښې د توريو استعمال او د علاقائيت منطق ته که ځير شو نو داسې خو بيا ترې ډېر کړکېچن صورت حال پيدا کېدلے شي لکه هم دغه د کونترې تورے که اوګورو نو دا په يوه بله اولسي سندره کښې هم استعمال شوے چې هغه داسې دے :

يم لټ پټي کونتره
ګرځېږم لره بره
خرڅکے نۀ يم چې په پړي باندې وير کوم
سېل د کشمير کوم

يوه فوک سندره چې سيال صاحب ئې د بنو يادوي۔

که ډېرغريب وې مو د غوړې منه کشے زده
جوور ګره ياره وی، جووری پرېږده [۵۰]

دا د وزيرو د ښځو د ولاړ اتڼ سندره ده ۔ د دې اول مصرعه د اتڼ ټکے دے ۔ دويمه مصره د اتڼ سرجوړَوي او له هرې سر مصرعې پس ته بيا بيا تکرارېږي۔ داسې هره مصرعه په خپل وار يو ټکے او بيا پسې هم هغه دويمه مصرعه تکرارولې شي ۔ دغه تکراري ټکے د اتڼ نورې ښځې ورپسې داسې نيسي 'جيور ګره ياره....' د دې سندرې يو بلو داسې هم دے:

جیور ګره یاره وی، جیوري پرېږده
که ډېر غریب وې مودې غوړې منے کشېږده
جیور ګره یاره وی، جیوري پرېږده

اتڼ چونکې د بنو خاصه نۀ ده ، بل چونکې فوک په تمدني ژوند کښې زیات فعالیت نۀ کوي بلکې دا په یو خاص اولسي ژوند کښې وده مومي ـ ځکه دا سندرې او دې ته ورته ځینې نور شیان له بنو څخه کومه خاص علاقه نۀ ښائي ـ خو له دې څخه دا هم مراد نۀ دے چې بنو خپل فوکلور نۀ دے لرلے. خو هر کله چې د بنو له نومیالیو قومونه څخه : درانیانو، غیلجیانو، سوریانو او غوریانود بنو په زرخېزه او ښېرازه مزکه خپل تمدني ژوند اختیار کړ۔ بیا نو د خپلو فولکلوري اثارو پاللو ته نۀ دي اوزګار شوي ـ چونکې فوکلور خپل یو خاص مزاج او ماحول غواړي او هم د هغې تحت وده کوي او په بنو کښې دا قسمه حالات ورته موافق نۀ دي پاتې شوي ـ

دغه لاندینی سندره چې په وزیرو پورې یاده کړل شوې ـ ولې دا چرته هم په وزیرو کښې نۀ ده اروېدل شوې ځکه دا د وزیرو نۀ بلکې یوه ماته شوې سندره ده چې له کومې بلې اولسي سندرې څخه دود شوې ده ـ

زیردې راته اوکتل د شرمه تکه زیړه شوم
درې ځله نسکېره شوم [51]

خو دا سندر ه د ګلنار بېګم په اواز کښې وئیل شوې دې لاندې سندره ته په ورته والي کښې یو څۀ لار پیدا کوي:

ځیر/ نیغ دې راته اوکتل
دې شرمه تکه سره شومه
تکنه غرمه شومه

د اولسي سندرو په لړ کښې یوه ډېره مشهوره سندره چې :

په دا باړه کښې اوبۀ ګډې وډې ځینه
شړ وائي لونګینه ، شړ وائي لونګینه [52]

د دې سندرې په حقله سیال صاحب یوځۀ داسې توضیح کړې ده چې:

''دافوک سندره په اول ځل ګلناربېګم، په دويم ځل ګلنار بېګم او په دريم ځل ورته ماه جبين د اواز خواږۀ ورکړي دي. څۀ اصلاح ئې هم په کښې کړې ده. هغه اصلاح داسې ده چې د' شړ وائي' په ځائې ' شينواري ' وئيلې دے چې د سندرې مفهوم ئې شکمن کړے دے. ځکه چې شينواري خو يو قوم نوم دے د چاسړي نوم نۀ دے چې مخاطب کوي ئې. په اصل کښې داسندره داسې او د مودې راسې په دغه شکل کښې وئيله شي. پس منظر ئې داسې دے چې:
اے لونګينه! (محبوب) په دا باړه کښې اوبۀ ګډې وډې په تېزۍ کښې رواني شړوې ځي''. ۵۳
دا سندره په لږ ډېر تغير سره داسې هم وئيل شوې ده چې:

پاس په باړه کښې اوبۀ ګډې وډې ځينه شينواري لونګينه

د دې سندرې په اړه تر اوسه چا هم سم سوچ او نۀ کړو چې دې کښې څۀ وئيل شوي ، دې کښې څۀ دي او څۀ باره کښې وئيل شوې ده. د دې سندرې په داخل کښې يو خاص منظر بيان شوے. د دې سندرې په داخل کښې يو څو خاص توري استعمال شوي چې که په هغه باندې سوچ اوکړے شي نو په سندره پوهېدل بيا اسان دي. خو پښتو سندرې غاړي او فولکلورپستان ډېر کم دې خو متوجه شوي. په دې کښې ړومبے خاص تورے 'باړه' دے. دويم 'اوبۀ' تورے دے دريم 'شړوائي'، 'شينواري' توري استعمال دے چې فوک پوهان ئې په جنجال کښې اچولي. په لاندېني بحث کښې د دې ټکيو بشپړو ته پام اوکړئ:

**باړه** : خلق ترې مراد د افريديو باړه مراد اخلي. ګويا دوئ داسې محسوسوي چې په دنيا کښې د باړې هم دغه يوه معنا ده کومه چې د افريديو له غرو څخه د پېښور په ترخ کښې تېرېږي. باړه ته په دې يواځينۍ سره تقويت هغه وخت زيات ور په برخه شو کله چې په دې سندره کښې د شينواري تورے په معنا د شينواري د قوم اومنل شو. هم دغسې په پښتو ادب کښې د رحمان بابا هغه يو شعر چې هغۀ ورکښې د باړې ذکر راوړے ، لا هم تقويت خاصل شو. خو که د باړې د ټکي اصل ، ماخذونه او يا مشتق مصدرونه اوکتلې شي نو بحث يو منطقي نتيجې ته رسي.

## باړه : باړي، باړۍ ، باړ او ځينې نور صورتونه

باړ : د ترلو په معنا: حد بندي کول، اِحاطه کول، گهېرنا ، روک لگانا۔ [۵۴]

باړا: اِحاطه، باړ، چاردېواري۔

مکان، محل:

ايا پهر کر باړے کے اپرال ان اندېش مند هوکر او بدحال ان

ميدان، پړي هوئي اراضي۔

گهاگرا کے پاس باړه هو اگر کوئي وسيع

بېل رکشا کی نمائش کا وهان هو اِنصرام [۵۵]

او باړه چې د باړه په دود اوليکله شي نو :

۱ ۔برش، تېزی، کاٹ، تلوار يا کسی بھی اهنی هتهيار يا اوزار کی دهار، وه رُخ جس مين دهار هوتی هے۔

۲ ۔طغيانی، سېلاب، ندي يا دريا وغيره کاچهړ اؤ۔

باړه پر گنگا هے جا پهنچوگے جلد

بت پرستو شوق سے جاؤ گيا [۵۶]

ناصح تو اُدهر بېټهـ اِدهر اشک کا هے دور

دريا هے مرا باړه ۔ يه ساحل نه بچے گا۔ [۵۷]

او په ظفرالغات کښې د دې معنا داسې راخيستل شوې ده۔

باړه د پېښور په علاقه د يو رود نوم

باړي : پټے، کهيت، د کلي په خوا کښې د مزروعه مځکې يوه ټوټه۔ [۵۸]۔

په درياب کښې ئې داسې معنا راغلې ده:

باړه : هغه خوراک چې د پيورو څارو مخکښې ئې د لوشلو په وخت کښې کېږدي، چې ورانے نۀ کوي۔ونډه، باړے۔

چاردېواري، اِحاطه۔

باړۍ : پټے، د کلي په خوا کښې د کر د مزکې يوه ټوټه۔ [۵۹]

(په وزيري کښې بوړئې، ښټني کښې بوړې ) يعني له هوارې مزکې څخه کله چې د خاورې باړ په دې غرض را اوگرځولې شي چې د باران او يا د ويالې او يا د نهر اوبۀ د کښت او کروندې ته استعمال کړل شي ۔ بند بياتردې غټ صورت

دے چې هغه د روانو اوبو یا د باراني اوبو خولې ته اچولې شي ـ یعني دا د مزکې هغه ساخت او جوړښت پورې اړه لري، کوم چې په دې بره مذکوره ترتیب سم کړل شوے وي ـ

په دې حقله زیاتره لوستونکي د رحمن بابا دې شعر ته ګوري چې:

باړه اوتړه هله کښت زراعت کړه تقوی دارشه هله طمع دجنت کړه

رحمن بابا کله هم دا نۀ وائي چې دغه د افریدیو د باړې خولې ته بند اوتړه ـ اوبۀ ترې خپلو کښتي مزکو ته راواړوه او پرې خړوب ئې کړه ـ څۀ رنګه چې د شعر په دویمه مصرعه کښې پېغام عام دے ـ چې هر سړے دې اول تقوی اختیار کړي ـ بیا دې طمع د جنت کړي ـ هم دغسې د اولې مصرعې مفهوم عام دے نۀ چې خاص دې باړې لره ـ رحمان بابا که هر څو د دې سیمې ؤ مګر سوچ و فکر او لید ئې افاقي ؤ ـ هغه د یوۀ کلي او قبیلې شاعر نۀ ؤ ـ دغسې دویم ټکے 'شړوائي'، یاشینواري' اصل او معنا ته کتل پکار دي ـ د سندرې اولنۍ مصرعه ته بیا ځیر شئ: په دې باړه کښې اوبۀ ګډې وډې ځینه

اوپوهېږئ چې اوبۀ په باړه کښې د څۀ له وجې ګډې وډې ځي ـ یعني د باران یا د اُور انتهائي شدت دے چې له کبله ئې په دې باړه کښې اوبۀ ګډې وډې را روانې دي ـ معنادا چې د اوبو زور دے باړه (باړ، باړې، باړي) ئې پرې یعني ماته کړې ده ـ یا د اوبو ولاړے مات شوے او خورې ورې روانې دي ـ

دلته دا سوال راپورته کېږي چې د باران ذکر خو په سندره کښې نشته ، بیا نو دا له کومه ؟ پښتو فولکلورپښتان په دې متفق دي چې په دې سندره کښې له 'شینواري' څخه مراد شینواري بحثیتِ قوم نۀ دے بلکې دا بل څۀ معنا ورکوي ـ غازي سیال هم دا مني چې دا 'شینواري' نا بلکې 'شړوائي' دے ـ نو شینواري ټکے خو له منځه اوواتو ـ اوس که دا تورے په دې لحاظ د پښتو ګرائمرپښتانو یا لغات پوهانو ته مخکښې کړل شي ـ نو د زمانې له لحاظ او د ګرائمر له صورته د دې سندرې مفهوم کله هم سم نۀ راځي ـ غرض دا چې دا تورے نۀ خو 'شینوارے' دے او نۀ 'شړوائي' دے بلکې دا ''شین اُوري'' دے ـ په دې کښې 'شین' په معنا د شین رنګ او ' اُوري ' په معنا د 'اُور یا د باران وربدلو' ته وائي ـ نو له 'شین اُوري' څخه مراد د باران د وربدو هغه کیفیت

کله چې باران یومخیز شي، باد او باران او ګرده په کښې کمه شي . دغه مهال د مزکې په مخ باران له ورایه تک شین ښکاري . د باران څاڅکي صفا او یو شین بخون رنګ اختیار کړي . د اوبو دغه رنګ مونږ د ډند په اوبو کښې او د سمندر په اوبو کښې کتلے شو . ځکه دا سندره په اصل کښې نۀ له ' شینوارو ' څخه ده . نۀ له ' باړې ' څخه . نۀ له 'شړوائي ' څخه بلکې دا یوه عام اولسي سندره ده چې د باران په دې کیفیت محبوبې خپل محبوب ته په دې انداز سره د باران د شدت اظهار کړے . یا هغه وخت کله چې د هغې سړے په پټي کښې په کار بوخت دے . د باران په اوبو خپل پټے اوبۀ کوي . نرے نرے باران پرې را شروع دے خو د هغۀ ځانته پام نۀ دے . خو د هغۀ محبوبې (کورداري) ور کښې نظر دے او په دې سندره ئې ورته خپل د مینې اظهار کړے .

اوس د سندرې ترتیب څۀ داسې شولو .

په دې باړه کښې اوبۀ ګډې وډې ځینه شین اُوري لونګینه

بیا نور نو هر رنګ ټکي ورباندې کښېښودل کېږي . په لحاظِ ورابښت باران په څو قسمه دے . لکه : سپین سسے ' پرخه، نرے شمال، نرے باران، ځیژ باران یا جیژ باران، باد وباران، جړی وغیره . دغه بره نری باران ته په کاکړي کښې پسته وور وئیلې شي . نومتو ژب پوهـ ډاکټر زیار هم دې ته پسته کښلي .[20]

د پښتنو په کالي پتریو (زیوراتو) کښې پېزوان نومې یو عام زیور دے . پېزوان د ښځو د استعمال هغه کالے دے چې ښځې ئې په پوزه کښې اچوي . چې د سرو یا د سپینو زرو نه جوړېږي . د پېزوان په مناسبت یوه مشهوره سندره ده چې:

پېزوانه تۀ چې په سرو شونډو ځنګېدې د خوبه ومه [21]

سیال صاحب دې ته په دې حواله بنوځی سندره وئیلې چې په دې کښې 'پېزوان' تورے استعمال شوے . ترکومه چې د پوزې او یا د کرلاڼیو په وزیري لهجه کښې پوزې له پاره د پېزې توري تعلق دے . دا په ټولو مشرقي کرلاڼیو بالخصوص د وزیري لهجې دود لرونکیو ټولو کرلاڼیو کښې پوزه ته پېزه وئیلې شي . په دې پورې یوه بله وزیري سندره هم ده چې:

په پېز ه دې چارګل په مخ دې زیړه روشنائي دو شال اوچوه ګرمي دو

او هم داسې یوه دا سندره ده چې:

ورخوړے ، ورخوړے څونګې څونګې جلې روشه که پېزوان کې
بيابه ئې ارمان کې

د پېزوان په حواله يوه بله اولسي سندره :

پېزوانه ويلې به دې وړمه پېزوان سورے شو اوبۀ لاړې په ورخونه
چې کوچ روان وي تابه پاس په شونډو وړمه پېزوانه ويلې به دې وړمه [۲۲]

په دې اساس دا يا داسې نورې سندرې بنو تـه منسوبول بـه مناسب کـار نۀ وي ځکه چې د دې توريو رېښې په نورو اولسونو کښې هم عام دي.

د فوکلوري لوازماتو تحت دا هر څۀ پـه نظر کښې سـاتل پکـار دي ځکـه چې لـه دې څخه د راتلونکي وخت پلټونکي به لـه سمې لارې څخـه بلې خـوا تـه متوجـه شي او لـه حقائقو بـه لرې ووځي.

نتيجه : غـازي سيـال د پښتـو ژبـې يـو تكړه ليكـوال دے چې د خپـل ژوند ډېرو مشکلو حالاتو باوجود د پښتـو ژبې او ادب درانۀ خدمات ئې ترسره کړي دي. پښتو نظم و نثر کښې په هر صنف طبع ازمائي کړې ده. خو نظم ئې تر ډېره حده کره او خوندَور منل شوے. د پښتـو افسانو يوه مجموع او دوه ناولونـه ئې هم ليکلي دي. د پښتو اولسي سندرو په راپېژندنو او سپړنو کښـې بيـا هـم خـاص مقام لري. د تحقيق په برخـه کښې د ګلنـار د شخصيت او فـن پـه اړه ډېر ګټـور معلومـات ئې را برخېره کړي دي. البتـه غـزل ئې د غـزل بـول شـاعرانو لـه خـوا زيـات نـۀ دے خـوښ کـړل شـوے. افسـانې او ناولونـه ئـې يـو څـۀ قـدر فنـي نيمګړتيا ضرور لري. د اولسي سندرو پـه اصـل او پـس منظـر کښـې ډېر پـه زړۀ پورې مباحث ئې کړي دي. خو ځينې ځايونو کښې بنو تـه ځـانګړے شـوے او د اطرافو سندرې ئې د بنو په جولۍ کښې نقش کړې دي. خو په مجموعي توګـه د دۀ نثر خوږ، شيرين، مهين او جـاذب نظر دے. يـو مقصد لـري او د ټـولنيزو مسـائلو خـوا تـه زيات متوجـه دے البتـه د شعر ډېره برخـه ئې يـوائې د حسـن و عشـق يـا د ادب برائې ادب تـر دائـرې چـورلي. چونکې فوکلوري ادب يـوائې دعام اولس څخه راټوکېدلے وي او هم دغه د ټول قوم د شريکې مـال بللې شي. مګر په ځينو معاملاتو کښې سيال د فني اصولو پـه خلاف د علاقائيت ښکار شوے.

## حوالې:

۱ ـ غازي سيال، ژوند او ښکلا، ۲۰۰۲ء طبع دوم، خپرونکے په خپله ليکوال، م ـ ۲
۲ ـ غازي سيال، هغه سندرې چې فوک نۀ دي، پېښور، ، اباسين ارټس کونسل ، خېبرپښتونخوا ،۲۰۱۲ ء، م ـ ۲۲
۳ ـ ژوند او ښکلا، م ـ ۲
۴ ـ دغه بره ، م ـ ۱۳
۵ ـ غازي سيال ، بنزے ، ۲۰۱۰ء طبع پينځم، خپرونکے په خپله ليکوال، م ـ ۳ ـ ۴
۶ ـ دغه بره ، م ـ ۲
۷ ـ دغه بره ، م ـ ۲ ـ ۷
۸ ـ دغه بره ، م ـ ۸
۹ ـ دغه بره ، م ـ ۸
۱۰ ـ دغه بره ، م ـ ۲۱
۱۱ ـ غازي سيال، منګرے، ، ۲۰۰۵ء، خپرونکے په خپله ليکوال، م ـ ۱۵
۱۲ ـ غازي سيال، سيورې، نومبر، ۲۰۰۸ء، خپرونکے په خپله ليکوال، م ـ ۲
۱۳ ـ دغه بره ، م ـ ۲
۱۴ ـ دغه بره ، م ـ ۲۷
۱۵ ـ بنزے ، ستمبر، ۲۰۱۰ء، جلد ۵، م ـ ۵
۱۶ ـ غازي سيال ، پرخه په ګلونه ، ۲۰۰۲ء طبع دوم و خپرونکے په خپله ليکوالو م م ـ ۱۵۸ ـ ۱۵۷
۱۷ ـ هغه سندرې چې فوک نۀ دي، م ـ ۵۲
۱۸ ـ دغه بره ، م م ـ ۵۴ ـ ۵۳
۱۹ ـ دغه بره ، ۴۵
۲۰ ـ دغه بره ، ۵۵
۲۱ ـ دغه بره ، ۵۳
۲۲ ـ فضل مير خټک ، فضليات، خورونکے ليکوال په خپله ، ۱۹۹۹ء ، م ۲۹۵
۲۳ ـ هغه سندرې چې فوک نۀ دي، م ـ ۵۲
۲۴ ـ دغه بره ، م ـ ۲۰
۲۵ ـ دغه بره ، م ـ ۹۵
۲۶ ـ دغه بره ، م ـ ۲۰

۲۷. دغه بره ، م. ۶۳
۲۸. دغه بره ، م. ۱۰۳
۲۹. دغه بره ، م م. ۶۴، ۱۸۲
۳۰. دغه بره ، م. ۶۴
۳۱. دغه بره ، م. ۶۴
۳۲. دغه بره ، م. ۶۴
۳۳. عارف غروال، غرنۍ سندرې، ،کابل، د افغانستان د علومو اکېډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۶۰ ش ، م. ۱۸۴
۳۴. هغه سندرې چې فوک نهٔ دي، م. ۶۵
۳۵. دغه بره ، م. ۶۵
۳۶. دغه بره ، م. ۸۸
۳۷. دغه بره ، م. ۸۸
۳۸. دغه بره ، م. ۱۱۲
۳۹. دغه بره ، م. ۱۴۴
۴۰. دغه بره ، م. ۱۴۵
۴۱. دغه بره ، م. ۱۴۵
۴۲. دغه بره ، م. ۱۰۵
۴۳. دغه بره ، م. ۱۶۳
۴۴. دغه بره ، م. ۱۶۶
۴۵. دغه بره ، م. ۱۷۲
۴۶. دغه بره ، م. ۱۹۵
۴۷. دغه بره ، م. ۱۸۳
۴۸. دغه بره ، م. ۱۸۶
۴۹. دغه بره ، م. ۱۸۶
۵۰. دغه بره ، م. ۱۹۲
۵۱. دغه بره ، م. ۱۹۲
۵۲. دغه بره ، م. ۱۹۵
۵۳. دغه بره ، م. ۱۹۲. ۱۹۵
۵۴. أردو لغُت (تاریخي أصول پر)، جلد دوم، کراچې، ترقي أردو بورډ، ۱۹۷۹، م. ۲۲۸،
۵۵. اردو لُغت. م ۲۳۰
۵۶. اردو لغت: م. ۲۳۲
۵۷. أردو لغت: م. ۲۳۳

۵۸ ـ بهادر شاه ظفر کاکا خېل، مولف، ظفراللغات (جدید ایډیشن) ، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، سنه نه‌لري، م ـ ۲۲۴
۵۹ ـ قلندر مومند ، فرید صحرائي، مولفین، دریاب، پېښور، ټېکسټ بک بورډ ، ۱۹۹۴ء، م ـ ۱۰۸
۶۰ ـ پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار، م ـ ۳۲۴ ، لیکلار ښود ، پېښور، دانش خپرندویې ټولنه ، م ـ ۳۲۴ ، ۱۳۸۲ ش ،
۶۱ ـ هغه سندرې چې فوک نه دي، م ـ ۲۰۱
۶۲ ـ عارف غروال، م ـ ۱۹۴